مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۲/۱۲

# «شرم له سپي»

## د عبدالمالک بېکسیار «چکرنامه»

### دویمه او وروستۍبرخه




ويل کېږي چې په افغانستان کې د خاطره ليکنې پيل له محمود طرزي نه شوی دی، خو په اوسنی زمانه کې د خاطراتو ليکلو ته دومره خلکو مخه کړې ده چې په اوسنيوخت کې يې څوک په لوستلو پسې رسېدای نه شي، خو د ادبي ارزښت لرونکي خاطرې ښايي د ګوتو په شمار وي.

خاطره د هر انسان په تېر شوي ژوند کې د هغه تجربې دي، هغه پېښې چې پر شخص باندې د تاثير په وجه د ده په ذهن کې ثبتېږي او تلپاتې کېږي.

د خاطرو په باب داسې نظر هم شته چې تېرژوند ته کېدای شي د خاطراتو ټولګه ووايو، حتی تاريخ ته هم ځينې خلک د تېر ژوند د خاطراتو په سترګه ګوري.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

تجربو ښودلې چې خاطره لیکنه هم تاریخي ارزښت لري، د انسانانو تجربې اوسنۍ او راتلونکو نسلونو ته لېږدوي او د نستالژیکې یادونو په وړاندې کولو سره د اوسنۍ او تېرو زمانو عاطفي ارزښتونه د یوه درس په ډول ترنورو پورې رسوي. که دا خاطرې له انساني ارزښتونو سره‌مل او په انځوریزه او خوږه ژبه مخاطبینو ته وړاندې شي؛ تاثیر به یې خوځنده شي.

خاطرې که له احساس او عاطفې سره مل وي، تعلیمي ارزښت هم لرلای شي. کېدای شي چې کله کومیکه بڼه غوره کړي او کله تراژیکه بڼه، نو په ډاډ سره باید ووېل شي چې ادبي ارزښت هم لري.

په خاطره لیکنه کې ادبي انځور جوړونه ډېره مهمه ده، د همدې لامل په وجه هغه خاطرې چې د ادبي ـ هنري انځورونو په ملتیا وړاندې کېږي، لوستونکي یې ډېرې خوښوي. د بېکسیار د کتابونو د مخکاته محفل په ترڅ کې یوه ګډونکونکي راته ووېل چې:

«ډېره تلوسه مې هغه کتاب ته وه چې «شرم له سپي» نومېږي، دا دی ترلاسه مې کړ اوس به یې په مزه ولولم.»

تجربو ثابته کړې ده چې د ادبي ارزښت لرونکې خاطرې خلک ډېرې لولي او باور هم پرې کوي، خو برعکس هغه خاطرې چې ځینې سیاسیون یې د خپل کاري دوران د رپوټ په بڼه لیکي او اصلي موخه یې د ځان سپیناوی وي، ډېر لوستونکي نه لري، ځکه چې له ریښتیا نه دروغ په کې ډېر وي او هېڅ ادبي ارزښت نه لري چې د لوستونکو پام وروا وړي.

هغه خاطرې چې د ټولنیز ژوند له متن نه انتخاب شوې وي د داسې کلماتو او جملاتو په چوکاټ کې وړاندې شي چې هنري ـ ادبي ښکلا او ارزښت ولري؛ خلک یې خوښوي، باور پرې کوي او ډېرځه ورنه زده‌کوي.

خاطره لیکنه په ادبیاتو کې ځانګړی ځای لري. ډوکتور غفور لېوال د خاطره لیکنې د هنري ارزښت په باب داسې نظر لري:

«هغه خاطرې چې ادبي‌سینګار او بلاغي ارزښتونه ولري، په ادبیاتو کې شاملېږي. په خاطرو کې له منځپانګې وراخوا، د خاطراتو د لیکلوبڼه، تصویري ارزښتونه او د ژبې خوږوالی مهم دی. ادبي خاطرات ژبنی‌هنر دی یا غوره ده وواېو: خاطرات که د یادونو او تېرو پېښو روایتونه د خوند او ښکلاپنځونې په په ګانه پسوللي ارائه کړي، نو ادبي متون یې ګڼلای شو، په ادبي خاطرو کې د تشریحي او معلوماتي حاشیو په نسبت، زیات تصویري روایت او خوږوالي ته اهمیت ورکول کېږي.»

خاطره د تېرو وختونو د پېښو بیان دی، خو هغه وخت ادبي ارزښت پیدا کوي چې له احساس او هنري او تصویر جوړونې سره مل شي او لیکوال یې هغه وخت لیکي چې یادې پېښې د ده پر ذهن او ژوند باندې اغیز پرېباسي، همدا دلیل دی چې په خاطره لیکنه کې د لیکوال لیدلوری ډېر رول لري او د خاطرې په متن کې یې اثر ښکارېږي.

کله چې خاطرې ولیکل شي، دې لیکلې بڼې ته کېدای شي د لیکوال د ژوند د اړخونو یو تتشاتي انځور هم وواېو.

بېکسیار خپلې لیکنې له سانسور او ډار نه پرته لیکلې دي. د ده داسې ژوندپېښې دي چې یا دی خپله په پېښو کې د یوه کورکتر په ډول حضور لري او یا یې د سترګو لیدلی حال دی، روایت یا د بل له خولې لیکل په کې د ګوتو په شمار دی، ځوبلګې یې په «چکرنامه» کې ماولیدي:

ـ «د مورزړه» (۹۳ ام مخ)،

ـ «قضایي لمونځ» (۱۳۹ ام مخ)،

ـ «کرتی» (۱۴۴ ام مخ)،

ـ «د پښتنو بېدی بیا میره شوه» (۱۶۷ ـ ۱۷۰مخونه)،

ـ «شرم له سپي» (۱۸۳ ام مخ)،

«د مورزړه» یې یوه بېلګه ده چې په پیل کې یې لیکلي دي: «راوي کیسه کوله» (بېکسیار عبدالمالک، شرم له سپي، کلاسیک خپرندویه ټولنه، ۱۴۰۴ هـ ل ـ ۲۰۲۵ م کال، ۹۳ ام مخ)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

ژوندپېښنې که په هنري بڼه ولیکل شي، ادب ورته ویلای شو او د بېکسیار «شرم له سپي» ژوندپېښنې له ښې هنري ــ ادبي تومنې سره په عالي احساس لیکل شوي دي، نو ځکه یې حق کېږي چې په هنري ادبیاتو کې وشمېرل شي.

د ډنمارکي کلچر یو له مثبتو اړخونو نه دا دی کوم قانون چې نافذ شي، بیا نو ټول یې مراعاتوي، حتی سپي. په ډنمارک کې سپیو ته ورزده کړای شوي دي چې سرې اشارې به ته درېږي او شنه اشاره د تګ یا تېرېدلو علامه ده، که د کوم سپي نه وي زده، نو خاوند یې له پرې نیسي چې څه ورانی ونه‌کړي؛ خو هغه څوک چې له بې‌قانونه ټولنې نه راغلي وي، بیا ډېرې شیانو ته پام نه کوي.

د بېکسیار په «چکرنامه» کې د «شرم له سپي» په سرلیک کې پر همدې موضوع باندې غږېدلی دی، چې ژور انتقادي بار لېږدوي. دلته به یې زه بشپړ متن راواخلم:

## «شرم له سپي»

زما د یوه ډېرګران دوست او زړه ته رانږدې ملګري کیسه ده چې ګټمټ یې لیکم:

تازه ډنمارک ته راغلی‌وم، بل‌څه کار مې نه و، بس کې یوځوساعته د ډنمارکي ژبې زدکړې یوکورس ته تلم او سیده بېرته راتلم. زما د تګ‌راتګ ۱۱ نمبربس ته د یوه ورو‌کي څلورلارې په یوه غاړه ورختم او په هغه بله غاړه بیا ترې کوزېدم، له دواړو لورو باید د ترافیکو له یوه څراغه اووښتی وای چې ډېر کم موټرونه‌پرې تلل راتلل، په همدې وجه او کابل و پېښور کې د خپلې تېرې قانوني بدایي سابقې له برکته ما چندان د دغه څراغ خیال نه ساته، ډېر ځله به خو څوک و هم نه، خو کله به که څوک سره څراغ ته ولاړ هم و نو ما به یو خوا او بل خوا موټرو ته سترګې وغړولې، چې نه به و نو سیده به واوښتم.

یوه ورځ داسې وشول چې زه ــ یو سپي او د سپي خاوند یو ځای له بسه راکوز شوو، په لاره سپی مخکې، زه ورپسې او د سپي خاوند ترما لا پسې راروان یو مخ په څراغ. څه ګورم چې نه ګورم سپی سم سیده بنیادم پلو لاړویو د پاره د ایستلې کرښې شا ته تم شو او نېغې نېغې سره څراغ ته ورګوري څو زرغون شي او بیا واوړي، د سپي له تمېدلو سره ما هم په دا خپل زړه کې وویل چې که له انسانانو حیا نه درځي نو کم له کمه لدا سپي خو وشرمېږه.

ودرېدم او له هماغې ورځې بیا تر ننه د ترافیکي څراغونو خیال ساتم.

(بېکسیار عبدالمالک، شرم له سپي، کلاسیک خپرندویه ټولنه، ۱۴۰۴ هـ ل ـ ۲۰۲۵ م کال، ۱۸۳ ام مخ)

### د بېکسیار د «چکرنامې» ځانګړنې:

۱ ــ د بېکسیار د «چکرنامې» ډېره برخه د سترګو لیدلې حال دی او ښایي چې له کمونې زیاتونې پرته یې لیکلې وي، ځکه ښې او طبعي راغلې دي،

۲ ــ د ژوندپېښو په لیکنه کې باید ساده ژبه چې د کرکټرونو له ځانګړنو سره سمه وي، وکارول شي او د لیکوال د ژبې او پرسوناژ د ژبې توپیر باید په دقیق ډول وشي او دا کار د بېکسیار په «چکرنامه» کې له ورایه لیدل کېږي،

۳ ــ د بېکسیار د «چکرنامې» بله ښېګڼه دا ده چې لنډې یې لیکلې او په لنډون کې یې د موضوع حق هم ورادا کړی دی،

۴ ــ کله چې بېکسیار د مهاجرت په چاپېریال کې ځینې پېښې ویني، نو د تېر وطني ژوند داسې پېښې ورپه یاد کېږي چې ورته‌والی سره ولري، نو دی یې په ځانګړي مهارت سره په پرتلیز ډول داسې بیانوي چې هم لنډې وي او یوځانګړی پیام په‌کې وي،

۵ ــ څنګه چې ژوندپېښنې د یوځه په اړه د لیکوال انفرادي‌لیدلوری دی، بېکسیار همدا اصل په «چکرنامه» کې له پیل نه ترپایه پورې مراعات کړی دی او د هرې پېښې په باب یې خپل نظر په انځوریزه ژبه څرګند کړی دی،

۶ ــ بېکسیار په خپله ټوله «چکرنامه» کې پېښې داسې لیکلې دي چې لوستونکی ځان د پېښې په منځ کې داسې احساسوي لکه دی خپله چې عیني شاهد وي،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

۷ ـ ځیني خلک د ژوندپېښو لیکل د لیکوالی لومړنی پوړۍ او لومړنی تمرین ګني، خو بېکسیار «چکرنامه» د قلمچلولو په پوخوالي کې پیل کړې او ښې په تول تللي لیکنې په کې دي،

۸ ـ بېکسیار د ژوندپېښو په لیکنه کې روزنيز اړخ ته هم پاملرنه کړې او په لیکنو کې د پاموړ روزنيز پیامونه شتهدي،

۹ ـ بېکسیار پېښې په داسې مهارت تشریح کوي چې لوستونکی لاس نیولی د پېښې ځای ته بیایي او له ځان سره یې ګرځوي،

۱۰ ـ بېکسیار په ډېری لیکنو کې هنري او انځوریزه ژبه کارولې ده، سره له دې چې مطالب په نثر لیکل شوي دي، خو ځیني داسې نوي ترکیبونه او انځورونه یې کارولي دي چې تر اوسه ما بل ځای نه دي لیدلي، دا یې څو بېلګې دي:

ـ د زاړهخرهشا نموهلي (په هګی کې چونېدلی، چکرنامه ۲۳ ام مخ)،

ـ اوازي دروازي (په هګی کې چونېدلی، چکرنامه ۲۵ ام مخ)،

ـ دوه زېړه وطني هګی قدرې مرې (په هګی کې چونېدلی، چکرنامه ۲۶ ام مخ)،

ـ په ځلوروژامو خبرې کول (کټمټ، چکرنامه ۲۷ ام مخ)،

ـ یو کوناتیځای (سونا، چکرنامه ۴۸ ام مخ)،

ـ نیمکوناتی په کرایه ورکول (اشتهار، چکرنامه ۷۹ ام مخ)،

ـ په نريړنځ اخته کتابونه (یوشعر ـ دوهشعره ـ لسشعره...، چکرنامه ۹۷ ام مخ)،

ـ د مهاجرتونو غوبل (جانبيعوارض، چکرنامه ۱۵۴ ام مخ)،

ـ کنډواله غابښ، (غابښدرد، چکرنامه ۱۵۶ ام مخ)،

۱۱ ـ کله، کله بېکسیار د خپلو لیکنو په منځ کې، د مطلب د لا جالبېدو او غوړېدو لهپاره یوه نیمه لنډه ټوکه هم لکه مالګه مرچ د مطلب په منځ کې وروتومبي لکه دا:

«چا له ملا پوښتي په ډېران لمونځ کېږي؟
ملا ویل نه.
پوښتونکي ویل ما خو پرون کاوه، ښه کېده.»
(بېکسیار عبدالمالک، شرم له سپي، کلاسیک خیرندویه ټولنه، ۱۴۰۴ هـ ل ـ ۲۰۲۵ م کال، ۱۰۲ ام مخ)

۱۲ ـ بېکسیار په خپلو لیکنو کې کله، کله د اروپایي هېوادونو د ارامه چاپېریال، انسانانو او حتی څارویو ته درناوی، مدني قوانین، د ښکار محدویت، د طبیعت په قوانینو کې ډېرې ګوتې نهوهل او... یادونه په دې نیت کوي چې د خپلې جګړه ځپلې ټولنې وګړي خبر کړي او په دې یې وپوهوي چې دلته څاروي د انسانانو کره ورمېلمانه کېږي، خو «زموږ په وطنونو کې انسانانو وحشت ته مخه کړې او ورځ تربلې یې د خونخوارۍ او څناورتوب درجهلوړېږي.»
(شرم له سپي، ۱۴۳ ام مخ)

۱۳ ـ په چکرنامه کې د ځینو پېښو یا ترسره شوو کارونو یادونه د یورپوټ په چوکاټ کې هم شوې ده لکه: «کتابپېژندنه، ۱۵۷ ـ ۱۶۰ مخونه مخونه»،

او نور...

د ژوندپېښو لیکل، د سترګو لیدلي حال په لیکلي بڼه خپلو مخاطبینو ته وړاندې کول دي، که د ژوندپېښو لیکوال د ژوند همدې تجربو ته هنري ـ ادبي انځوریزه بڼه ورکړي د ادبي متن بڼه غوره کولای شي او بېکسیار دا ګار تقریباً په ټوله «چکرنامه» کې کړی دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ

د ژوندپېښو په ليکلو کې د بيسکسيار مهارت دا دی چې دی په خو لنډو پروګرافونو کې مطلب رالنډوي او په همدې لنډه ليکنه کې دی د يوه يا څو کرکټرونو کړه‌وړه هم بيانوي او بله ښيګڼه يې لا دا ده د هنري نثر مالګه مرچ هم پرې دوړوي.

بيکسيارد «شرم له سپي» نه په مطالبو کې ډېره هڅه کړې ده چې پېښې رالنډې کړي، په لنډوالي کې يې د موضوع حق هم ادا کړی او پېښې داسې بيانوي چې لوستونکی له ځان‌سره د پېښې ځای ته بيايي او پېښه په ژوندی بڼه ورښيي، لوستونکی داسې انګېري چې د پېښې په ځای کې حاضر دی.

د بيکسيار «شرم له سپي» د ده د سترګو ليدلو حالونو د همداسې پېښو يوه باوري ټولګه ده چې له پيل نه ترپايه د ادبي ــ هنري ارزښت په لرلو سره ژوند پېښې په کې انځور شوې دي.

د بيکسيار د ژوندپېښو ليکنې ټومنه د ده له شخصي، رسمي او هنري ژوند څخه اخيستل شوې ده او دی پر هغو پېښو غږېږي چې ډېره سلنه يې ده په سترګو ليدلې دي.

که بېکسيار پلان لري چې د خپل ژوندپېښو نورې برخې هم له لوستونکو سره شريکې کړي، بايد د دې کتاب (شرم له شپي، چکرنامه) تر سرليک لاندې يې ليکلې وای: لومړټوک.

## د بيکسيار د نورو چکرنامو په هيله!

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ